# د روژې شل مسایل


لیکوال

(مولانا احمد شاه حفظه الله تعالی)

راټوولونکې

جان محمد مظلوم


Ketabton.com

له خپلو نیکو دوعاوو مو مه هیروی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

له خپلو نیکو دوعاوو مو مه هیروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روژه یو نعمت

روژه د الله جل جلاله یو ستر نعمت دی، خو موږ به څرنګه ددې نعمت په ارزښت پوه شو په داسې حال کې چې د ژوند ډیره برخه مو دنیاوي چارو ته ځانګړې کړې ده او تل له سهار نه تر ماښام پورې هڅه کوو چې څرنګه په دې ډګر کې پرمختګ وکړو.

په داسې حالاتو کې به مونږ څرنګخ پوه شو چې روژه د مسلمانانو لپاره د الله جل جلاله له لورې یو ستر نعمت دې، پّ روژه مبارکه میاشت کې چې د الله جل جلاله له لوري پر مسلمانانو کوم برکتونه نازلیږي د هغو درک هغو خلکو ته کیږي چې د دنیا پرځای یې اخرت ته مخه کړې ده لکه په حدیث شریف کې راځي: یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د رجب یا برات میاشت ولیده نو داسې دوعا یې وکړه: اللهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبَ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمضَانَ [1]

ژباړه: یاالله مونږ ته په رجب او شعبان میاشت کې برکت کیودي او تر رمضان مو ورسوي؛ یعنې مونږ ته دومره عمر راکړې چې د رمضان میاشت مو نصیب شي .

له دی څخه مونږ ته معلومیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژی مبارکې څومره لیوال وه!

د همدې له برکته ډکې میاشتې د مسایلو د راټولولو په موخه مې انټرنیټ ته مخه کړه او بالاخیره په دې وتوانیدم چې د روژی شل مسایل راټول کړم، که څه هم د کتاب د چاپولو وس مې نه درلود نو دا مې غوره وګڼله چې هغه یوه یوه مسئله ترتیب کړم او ستاسې په درانه حضور کې یې کیږدم.

ـ جان محمد مخلص ـ

ستاسو د نیکو دوعاګانو په هیله

---

۱ مجمع الزواید ۱۵۶/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول بحث: د روژې تعريف: (صوم) روژه په لغت کې بندولو ته وايي. د روژې اصطلاحي مانا: روژه په اصطلاح کې د ځان بندول دي، د خوړو، څښو او جماع څخه د فجر صادق (سبا راختلو) څخه تر لمر پريوتلو پورې .فقه السنة (۳۸۷- زادالمعاد ۲۲۲/۱

دويم بحث: د روژې د فرضيت تاريخچه:

د رمضان د مبارکې مياشتې روژه د هجرت په دويم کال د شعبان د مياشتې په دويمه نېټه د دوشنبې په ورځ فرض شوه. فقه السنة ۳۸۲/۱ ، علامه ابن القيم په خپل کتاب زادالمعاد کې ليکي، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) (نهه رمضانه) روژه نيولې ده، او همدارنګه نوموړې د روژې فرضيت په درېيو (۳) مراحلو ويشلې.

لومړی: کله، چې روژه فرض شوه؛ نو انسان لپاره خپله خوښه و ، چې روژه نيسي او که د روژې نيولو پر ځای فديه ورکوي.

دويم: په دويمه مرحله کې د روژې فرضيت به د ويده کېدلو څخه پيل کېده، که څه هم يو شخص به د شپې لخوا ويده شو.

درېيم :په درېيمه کې د روژې نيول د سبا (فجر صادق) څخه پيل او د لمر تر ډوبېدو پورې دوام کوي، چې د شپې پر مهال د انسان لپاره خوراک، څښاک او د خپلې بي بي سره جماع کول روا دي. زاد المعاد ۲۲۷/۱ ، کې ليکي د درېيمې مرحلې روژه د قيامت تر ورځې پورې دوام لري. په بخاري کتاب کې د براء ابن عازب (رض) حديث نمبر ۱۹۱۰ وګوره، او د لا ډېرې پوهې لپاره تفسير ابن کثير ۳۰۲/۱ (ط بېروت) وګورئ.

درېيم بحث: د روژې حکم

د رمضان د مبارکې مياشتې روژه نيول په هر عاقل، بالغ مسلمان باندې فرض ده (چې کوم شرعي عذر ونه لري) او منکر ور څخه کافر دی. سورة البقره اية ۱۸۴ فقه السنة ۳۸۳/۱

څلورم بحث: د روژې ځېنې ډولونه:

روژه په څو ډوله ده.فرض، لازم(واجب)، سنت ، حرام، مکروه

۱ :د رمضان د مبارکې مياشتې روژه فرض ده. ۲: نذري روژه لازم او واجب ده. ۳: د عاشورا (د محرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم)، د عرفې ورځ، د دوشنبې او پنجشنبې ورځ همدارنګه د ایام البیض (د هرې میاشتې دیارلسم، څوارلسم، پینځلسم) روژې سنت دي، چې په صحیح روایاتو کې یې ذکر راغلي دي. فقه السنة ۱/۳۹۷-۴۰۲ مشکوة المصابیح ۱/۲۳۳-۲۴ (ط بیروت)

۴ :ناروا ( حرامه) روژه یانې په دغو ورځو کې روژه نیول الله پاک حرامه ګرځولې، لکه: د کوچني او ستر اختر په ورځ روژه نیول، همدارنګه د ستر اختر د دویمې، دریمې او څلورمې ورځې روژه نیول ناروا دي چې دیته ایام التشریفق وایې. د تل لپاره روژه نیول چې یوه ورځ هم نه افطار نکوي، او دوه، درې ... ورځې پرلپسې روژه نیول چې صوم وصال ورته وایې ناروا دي. فقه السنة ۱/۳۹۳-۳۹۷ او مشکوة المصابیح کتاب الصوم.

پینځم بحث: د روژې د نه نیولو ګناه:

هر څوک چې د روژې فرضیت څخه انکار کوي؛ نو کافر او مرتد بلل کېږي، او هغه څوک چې د رمضان روژه فرض ګڼي او نه یې نیسي؛ نو دا د کبیره ګناه مرتکب دی او دغه کار فسق، فجور او معصیت دي. رسول الله فرمایي ( چا چې د رمضان مبارکې میاشتې یوه روژه قضداً او بې له شرعي عذره وخوړله؛ نو کچیرې ټول عمر روژه ونیسي؛ نو د یوې قضا شوې روژې ثواب نه شي پوره کولی. مشکوة المصابیح )۲۰۱۳ (بخاري ترجمة الباب)

د ابن عباس څخه په یو روایت کې راغلي، چې اسلام پر دریو شیانو بناء دی، یانې د اسلام اساسات درې دي، چا چې یو پرېښود ؛ نو کافر دي، (د مسلمانانو امیر به یې وینه تویوي)

۱ :ددې خبرې ګواهي ورکول، چې اله، معبود او د عبادت حقدار یوازې الله دی، بل هیڅوک نشي کېدلی.

۲ :د فرض لمونځ ادا کول، ۳: د رمضان د مبارکې میاشتې روژه نیول.

رواه ابویعلی والدیلمي وصححه الذهبي فقه السنة ۱/۳۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم بحث: د روژې اهداف:

علامه ابن القيم رحمة الله فرمايي، چې د روژې اصلي موخه د الله(جل جلاله) سره مينه، محبت او د هغه رضا حاصلول دي، همدارنګه روژه د الله (جل جلاله) او بنده تر منځ يو خاص او پټ راز دی،چې بل څوک پرې نه پوهېږي. بې له الله (جل جلاله) څخه ،چې دغه انسان خوراک، څښاک او جماع نه کول يوازې د هغه لپاره پرېښي چې په دې خبره انسانان او بني ادم نه خبرېږي ؛ نو ځکه وايو، چې د روژې هدف د خوراک څښاک او د جماع د شهوت کنترول او برابرول دي،چې انسان په دغه مياشت کې د اخرت او جنت د نعمتونو د لاس ته راوړلو لپاره تيار او ورروزل شي، او د روژې بل هدف انسان ته د وږو، مسکينانو، بنديانو، مجاهدينو او مهاجرينو د حال يادونه کوي،چې پر خپل ځان د شيطان لارې بندې کړې ځکه کله، چې خوراک او څښاک کنترول شي؛ نو وينه او د وينې رګونه کنترول او د شيطان لارې بندې او تنګې ش، چې په پايله کې روژه د انسانانو لپاره د شهواتو او شيطان په مقابل کې واکې او ډال ګرځي، چې د ګناهونو نه پرې ځان د الله په مرسته ساتي. روژه د نيکانو لپاره د باغيچې مثال لري، چې يوازې د الله (جل جلاله) لپاره تر سره کېږي. زادالمعاد ۲۲۲/۱

د روژې ګټې:

الله تعالی فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [البقرة : 183] ( سورة البقره ۱۸۳)

ژباړه: (ای مومنانو !فرض شوې ده په تاسو لکه چې په مخکنيو مسلمانانو فرض شوې وه. ددې لپاره چې په تاسې کې تقوا او پرهيز ګارې پيدا شي)

قرطبي په ۲ جز ۲۱۰ مخ کې ليکي چې په يهودو او نصارو يوه يوه مياشت روژه فرض وه. خو دوی بيا په کې زياتوالی راوستو. او د مجاهد څخه قرطبي نقل کوي چې روژه په هر امت فرض وه .او تشبيه په نفس فرضيت کې دی .

د روژې نيولو پنځوس ګټې. او د نه نيولو پنځوس زيانونه چې دا ګټې انسان له لاسه ورکوي.

۱ :د روژې په هره شپه کې الله تعالی ځينې بنده ګان د اور څخه خلاصوي. (مشکوة ۱۷۳)

۲ :د روژې په راتللو سره د دوزخ دروازې بندېږي. (مشکوة ۱۷۳)

۳ :د روژې په مياشت کې د ليلة القدر شپه شتون لري چې د زرو مياشتو څخه غوره ده .

۴ :د روژې اجر د نورو عملونو څخه زيات دی چې د ۱۰ څخه تر ۷۰۰ پورې اجرونه ورکوي.

۵ :روژه نيوونکي لپاره خوشحالي ده د روژه ماتي په وخت کې.

۶ :روژه نيوونکي لپاره خوشحالي د قيامت په ورځ کې چې د الله تعالی سره لېدنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ :د روژه نیونکي خوله ښایسته بوي کوي.
۸ :د روژه نیونکي د خولې خوشبوئي د الله تعالی په وړاندې د مشکو د خوشبوئي څخه ډېره خوښه ده.
۹ :روژه د شیطان لپاره ډال دی.
۱۰ :روژه باطلو ته ډال دی.
۱۱ :روژه د دوزخ د اور لپاره ډال دی.
۱۲ :روژې سره انسان د بدو خبرو او شور څخه بچ کېږي.
۱۳ :روژې سره انسان بدو ردو او جنګ څخه بچ کېږي.
۱۴ :روژه نیونکی به جنت ته د باب الریان دروازې څخه ننوځي. مکشوة المصابیح ۱۷۳
۱۵ :د روژې په راتللو سره شیطانان او پیریان تړل کېږي. (مشکوة ۱۷۳)
۱۶ :د روژې په راتللو سره د جنت دروازې خلاصېږي. (مشکوة ۱۷۳)
۱۷ :په روژه کې د الله تعالی له لورې اعلان کوونکي اعلان کوي. چې ای د خیر غوښتونکیه! د خیر غوښتنه کوه. او د شر غوښتونکیه! د شر څخه ځان وساته .(مشکوة ۱۷۳)
۱۸ :د روژې میاشت د برکت او د خیر میاشت ده. ( چې انسان ته په روژه نیولو حاصلېږي) (مشکوة ۱۷۳)
۱۹ :روژه د مسلمانانو لپاره شفارس کوي چې الله تعالی دا بنده وبښه. (مشکوة ۱۷۳)
۲۰ :رسوالله (ص) فرمائي: چې هر هغه انسان چې روژه ونیسي. د ایمان له کبله او د ثواب د غوښتلو له کبله ؛نو مخکني ګناهونه یې ښښل کېږي. (بخاري، مشکوة ۱۷۳)
۲۱ :د روژې نسبت الله تعالی ځانته کړی چې دا زما لپاره ده.
۲۲ :روژه کې نفل عبادت الله تعالی په فرضو عبادتونو سره قبلوي. (مشکوة ۱۷۳)
۲۳ :روژه کې فرض عبادات الله تعالی په ۷۰ عبادتونو قبلوي. (مشکوة ۱۷۳)
۲۴ :روژه د صبر میاشت ده. او د صبر ثواب او بدله جنت دی. (مشکوة ۱۷۳)
۲۵ :روژه د همدردۍ او احساناتو میاشت ده. ( د فقیرانو مسکینانو ، کونډو ضعیفانو سره) (مشکوة ۱۷۳)
۲۶ :د روژې په میاشت الله تعالی دمومن رزق زیاتوي. ( کله په مقدار سره کله په کیفیت او برکاتو سره ) (مشکوة ۱۷۳)
۲۷ :روژه ماتی ورکول روژه دار انسان ته په دې سره کناهونه ښښل کېږي او نفس د اور څخه خلاصیږي. او په دې سره د روژه نیونکې په اندازه ثواب دی. (مشکوة ۱۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸ :هر انسان چې روژه دار موړ کړي. الله تعالی به د داسې حوض څخه اوبه ورکړي. چې بیا به نه تږی کېږي. تر دې چې جنت ته ننوځي. (مشکوة ۱۷۴)

۲۹ :دروژې میاشت اول یې رحمت منځ یې بښل او اخر یې د اور څخه خلاصون دی. (مشکوة ۱۷۴)

۳۰ :روژه دار ته په اخري روژې نیولو سره ګناهونه ښښل کېږي لکه مزدور ته چې مزدوري په اخر کې ورکول کېږي. او دا یوازې د لیلة القدر شپې پورې ځانګړې نه ده.

۳۱ : روژه د الله تعالی او بنده تر منځ یو راز دی . چې دا راز بل چا ته نه ښکاري. د الله تعالی څخه پرته نورو ته او نور عبادات خو ښکاره وي .قرطبي ۲–۲۰۹

۳۲ :رسول الله (ص) فرمائلي دي: هر انسان چې روژه ونیسي یوه ورځ د الله تعالی د رضا لپاره او په دې سره یې خاتمه وشي. نو دا به جنت ته داخل شي. رواه احمد الترغیب والترهیب ۱۴۱۰ مخ وصححه الالباني.

۳۳ :رسول الله (ص) فرمایلي دي هر هغه انسان چې روژه ونیسي د الله په لاره کې نو د دوزخ اور به ترې د سلو کلنو په مزل لرې وي. الترغیب والترهیب و صححه الالباني.

۳۴ :رسول الله (ص) فرمایلي دي چې د روژې په شپه او ورځ کې انسان الله تعالی د دوزخ څخه بچ کوي. او د مسلمانانو دعا قبلوي. الترغیب والترهیب و صححه الالباني. ۱۴۴۲.

د ځای د کمښت لامله مو ټولې ګټې نه شوی یادولې.

اووم بحث: د انسان پر نفس باندې د روژې اغېز

ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب کې زاد العماد کې فرمایې چې پر نفس او بدن باندې د روژې اغېز ډېر عجیب دی، چې څوک پرې پوه شي، هغه دا چې روژه د انسان د بدن غړي او قوتونه د فاسدو غزاګانو او د هغې د خرابو اجزاوو څخه ساتي، چې د انسان د هاضمې جهاز او رګونو د پاکلوالي لامل ګرځي، چې په پایله کې د زړه او معدې څخه بوج کمېږي، چې دا ټول د انسان د روح، روغتیا او اندامونو د سلامتیا لامل ګرځي، چې سالم او قوي اندامونه انسان سره د تقوی په خپلولو او د الله (جل جلاله) په عبادت او راضي کولو کې مرسته کوي. دا ځکه چې د انسان اړیکې او اړوند د خواهشاتو څخه پرې شي او یوازې د الله پاک عبادت ته متوجه شي. زادالعماد ۲۲۲/۱

اتم بحث: د روژې ماتوونکي (مفطرات):

د بحث د پیل څخه مخکې یوه خبره د یادونې وړ ده،چې په روژه کې په هېره او سهوې سره خوراک، څښاک او جماع باندې کفاره او قضاء نشته. هدایه ۱۰۵/۲

۱ :په جماع کولو سره روژه ماتېږي، او کفاره پرې لازمېږي. کفاره یې د یو مریې یا وینځې ازادول یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم دوه میاشتې پر له پسې روژه نیسي او یا به شپیتو مسکینانو ته د غرمې او ماښام ډوډۍ ورکوي.
۲ :خوراک کول، ۳: څښاک کول. ۴: قصداً قی کول، که په ډکه خوله وي او که نه وي. ۵: په ډکې خولې سره قی کول، هدایه ۲/ ۱۰۲ ، فقه السنة ۱/ ۴۱۲
۲ :استمناء (یانې د خپل بدن څخه مني، نطفه خارجول) چې په لاس سره وي، که په شهوت سره نظر وکړي، او یا ښځه ښکل کړي او یایې ځان سره پیوست کړي، اوکه نطفه ترې خارج نه شي؛ نو روژه نه ده ماته قضاء هم نشته دی. فقه السنة ۱/ ۴۱۲
۷ :که انسان په دې ګمان خوراک وکړي، چې سبا شوي نه دی؛خو سبا شوی وي،یا لمر ډوب شویدی او هغه نه وي ډوب شوی؛نو قضا به راوړي، چې دا د جمهور وعلماؤ او څلور امامانو قول دی، فقه السنة ۱/ ۴۱۲، هدایة ۲/ ۱۳۰
۸ :بې هوشۍ سره روژه ماتېږي، ۹: چې انسان لیونی شي هدایه ۲/ ۱۲۲-۱۲۷
۱ یادونه: په ځینو مفطراتو (د روژې ماتوونکې) کې د روژې قضاء او کفاره دواړه شرط دي. لکه جماع او ځینو نورو کې قضاء شته  او کفاره یې نشته لکه د حیض او نفاس لامله
۲ یادونه: اهل علمو دا قاعده لیکلې ده،چې بدن ته د هاضمې جهاز غذا څخه  داخله شي؛نو هغې سره روژه ماتېږي. هدایه ۲/۱۱۵ ، اعلاء السنن  ۹/ ۱۴۲

نهم بحث: هغه څه، چې روژه پرې نه ماتېږي.
۱ :غسل کول او اوبو کې ډوبېدل، ۲: رانجه استعمالول، ۳: سترګه، غوږ او پوزه کې قطره (څاڅکي) اچول، ۴ :د خپلې ښځې ښکلول چې د انزال (د مني د خارجېدو) ویره نه وي، ۵: مضمضه ( په خوله کې اوبه اچول) او استنشاق (پوزې ته اوبه اچول) سره روژه نه ماتېږي، په دې شرط سره چې داوبو اچولو پر مهال قصداً اوبه تیرې نه کړي، ۶: خوشبویې (عطر) استعمالولو سره، ۷: که پر روژې انسان د جنابت په حالت کې سبا شي، ۸ :د ماښام نه تر سبا ختلو پورې د روژه نیونکې لپاره خوراک او څښاک روا دی .۹ :په ښکر لګولو او د بدن څخه د وینې په ویستلو روژنه ماتېږي، ۱۰: د مسواک په استعمال سره  فقه السنة ۱/ ۴۲-۴۱۱
لسم بحث: هغه کارونه چې په روژه کې ناروا دي:
۱ :هر ډول ناوړه کار، فسق، فجور، او بدعت تر سره کول په روژه کې ناروا دي،ځکه د روژې موخه د شهواتو څخه د نفس بندول دي، چې کنځلې کول،غیبت، زنا ، فحشا ، بربنډوالي په اړه خبرې کول، په چا پسې بد ویل، دروغ ویل، د نظر ناوړه استعمالول، ریا کاري، فلمونه کتل، بې ګټې مجلسونو کې کیناستل او داسې نور ناوړه اعمال هغه څه دي، چې مسلمانان باید ترینه ځان وساتي، فقه السنة

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۰۵/۱

یوولسم بحث: ځینې مهم عبادتونه.

هر مومن به دغه میاشت کې ډېر عبادتونه کوي او په ځانګړي ډول په وروستیو لسو شپو کې.

۱ :قرانکریم تلاوت کول، د هغه تعلیم، تدریس، لفظي مانا، ترجمه او تفسیر کې برخه اخیستل او د قرانکریم د علومو په مجالسو کې برخه اخیستل.

۲ :سخاوت یانې د نفقې او صدقې په ورکولو کې پراخي، نبي (ع) به په دغه میاشت کې ډېر سخاوت کولو. بخاري.

۳ :د الله تعالی ذکر، دعاګانې، نوافل کول.

۴ :وروستیو شپو کې د نورو شپو او میاشتو په پرتله ډېر عبادت کول لازم دي،کله به چې د رمضان وروستۍ لس شپې راغلې ؛ نو رسول الله (ص) به په دې شپو کې ډېر عبادت کاوه، او خپله کورنۍ او عیال به یې هم د عبادت لپاره راوېښ کړل، خپل لنګ به یې کلک وتاړه، یانې جماع او د هغې اسباب به یې بند کړل. بخاري.

نو ګرانو لوستونکو موږ باید د رمضان میاشت د عبادتونو لپاره یو فرصت او چانس وګڼو او په دغه میاشت کې تر نورو ټولو وختونو ډېره هڅه وکړو چې خپل خالق راضي کړو.

دولسم بحث: د لیلة القدر بیان:

لیلة القدر د هر رمضان میاشتې په اخرو لسو شپو کې شتون لرياو دا په تاق شپو کې راځي، ددې شپې عبادت د زرو میاشتو له عبادت څخه غوره دی، ددې طلب کولو سره د ایمان او ثواب لامله الله پاک د انسان ګناهونه ببښي؛ نو کوښښ پکار دی،چې دا وروستۍ لس شپې په عبادت تیرې شي. او د لیلة القدر نور تفصیل یې د حدیثو او تفسیر په کتابونو کې شته دی.

دیارلسم بحث: هغه عذرونه چې روژه ورسره معاف ده.

۱ :د داسې ناروغ لپاره روژه خوړل روا ده،چې د سختې ناروغۍ له کبله نشي کولی روژه ونیسي؛ نو که د جوړېدو تمه او هیله یې لرله قضاء به یې راوړي او که جوړېدو هیله یې نه لرله ؛ نو د هرې روژې په بدل کې به فدیه ورکوي.

۲ :په سفرکې روژه خوړل شته؛ خو قضا به یې رواړي.

۳ :هغه لوږه او تنده چې له امله یې انسان ته د مرګ خطر وي؛ نو روژه خوړل (فطر) ورته روا دی، او قضا به یې راوړي. فقه السنة ۱/ ۲۹۱-۴

۴ :د هغه شیخ فاني ، بوډۍ او کمزورې ښځې لپاره د روژې خوړل روا دي، چې د روژې نیولو وس او طاقت نه لري؛ خو د هرې روژې په مقابل کې په فدیه ورکوي چې هغه نیمه پیمانه غنم دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

احنافو علماؤ په نظر چې تقريباً دوه کيلو کېږي.
۵ :حامله ښځه او شيدې ورکونکې ښځې چې کله په خپل ځان او يا په خپلو بچيانو د مرګ ويره ولري ؛ نو روژه خوړلی شي او قضا به يې راوړي.
۶ :ښځه به د حيض او نفاس پرمهال روژه نه نيسي او ورسته به يې قضا راوړي.
۷ :هغه بنديان چې کافران او ظالمان يې روژې نيولو ته نه پرېږدي او يا داسې سخت کارونه ورباندې کوي، چې روژه ورسره نه شي نيولی؛ نو افطار کولی يې شي او قضاء به يې راوړي. فقه السنة ۱/۳۸۸-۳۹۳

## څوارلسم بحث: د روژې د مياشتې (هلال) دليدلو حکم:

د روژې مياشتې د ليدلو لپاره د يو تقوی دار او ديندار مسلمان شاهدي او ګواهي ورکول بس دی، چې مياشت وګوري او يا به د شعبان ديرش ورځې پوره کوي. فقه السنة ۱/۳۸۵ او د جمهور علماؤ په نېز اختلاف مطالع معتبر دی، په دې مانا چې هر هېواد او قوم لپاره د خپل هېواد د مياشې ليدل باور لري او يا به د شعپان ديرش ورځې پوره کوي. او د اختر د مياشتې د ثبوت لپاره د دوو کسانو ګواهي پکار ده، چې کله اسمان وريځ وي. هدايه کتاب الصوم

## څوالسم بحث: د رمضان د مياشتې د شپې قيام (عبادت کول)

هر مسلمان بايد د رمضان مياشتې په ټولو شپو کې د تراويح او تهجد لمانځه ته ډېره پاملرنه وکړي.او د تراويح او تهجد لمونځ په پوره ډاډ ، خشوع، عاجزی، په ښايسته تلاوت کولو او د تجويد او ښه اواز سره د قرانکريم په ويلو سره ادا کړي، د تراويح د رکعاتو په شمېر کې د علماؤ اختلاف دی، چې مسلمانان بايد ددې اختلاف څخه د اصولو اختلاف جوړ نکړي او په دې موضوع باندې د هر راز جنګ د رامنځ ته کولو څخه ډډه وکړي. فقه السنة ۱/ ۱۸۲

## پنځلسم بحث: د روژه ماتي بيان:

۱ :په روژه ماتي کې مستحب طريقه دا ده ،چې لمر ډوب شي او ماښام داخل شي ؛ نو سمدلاسه روژه ماتی وشي.
۲ :روژه ماتی په طاقو کجورو (خرماؤ) مستحب او که خرما نه وي؛ نو په اوبو سره . زادالمعاد ۱/۲۳۲
۳ :د روژه ماتي وخت کې دعا او ذکر ښه قبلېږي او د روژه ماتي دعا دا ده. (اللهم لک صمت وعلی رزقک افطرت) ابو داؤد ۲۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ :محتاج انسان ته روژه ماتی ورکول ډېر اجر او ثواب لري. زادالمعاد ۱/ ۲۳۲

شپاړلسم بحث: د پېشنمي بيان:

۱ :پېشنمی کول مستحب دي. ۲: دا د خير او برکت کار دی، څکه روژي ته قوت وربښي او روژه اسانه کوي. ۳: روژه دار باندې الله پاک رحمت رالیږي او ملائکې ورته دعاګانې کوي. ۴: پېشنمی په لږ او مناسب خوراک او همدارنګه په اوبو هم روا دی. ۵: پېشنمی د نیمې شپې څخه تر سبا ختلو (قجر صادق) پورې روا دی. او ښه دا ده، چې فجر صادق ته نږدې وي. ۶: په دغه وخت کې تهجد، استغفار د الله تعالی نه ښښنه غوښتل ډېر اجر او ثواب لري. فقه السنة ۱/ ۴۰۳

اوولسم بحث: د اعتکاف بيان:

اعتکاف په جومات کې دېره کېدل د ثواب او د الله پاک ته د نزدیکت او د هغه د رضا حاصلولو لپاره دی. اعتکاف بې له مسجد څخه بل ځای کې نه صحیح کېږي د رمضان میاشتې په وروستیو لسو شپو کې اعتکاف سنت دی او د اعتکاف پرمهال به انسان ډېر عبادت، ذکر، دعا، صدقه، تلاوت، لمونځ او نیک اعمال کوي، د اعتکاف پرمهال ډېرې خبرې او بې اړتیا د جومات نه بهر وتل ناروا دي. او د ناروغ پوښتنې او جنازې لپاره به د جومات څخه بهر نه رواځي ؛ خو که د انساني اړیتا لپاره د باندې راوتلی وي، او په لاره کې یې دا دوه کارونه وکړل؛ نو روا ده. اعتکاف په جماع کولو فاسدېږي او قضاء به یې رواړي. د اعتکاف د نورو مسايلو او احکامو د پوهېدو لپاره د فقهې او حديثونو کتابونه وګورئ، همدارنګه فقه السنة ۱/۴۱۹- ۴۲۸ وګورئ.

**د روژې مبارکه میاشت کې مې په خپلو دوعاوو کې هېر نکړې**

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**